# بادام: تنوع او د ځاى ټاکل

ټيلفون: 977-758-0799 برېښناليك: javid.hamidzada@rootsofpeace.org

## بادام: تنوع او د ځاى ټاکل

د بادام د ډول ځانګړتياوې او د ودې د سيمې ټاکلو مهمې ټکي په لاندې ډول دي:

| پړاو | اصلي ټکي او پوښتنې |
|---|---|
| 1. د مارکيټ غوره توب ته کره کتنه | مارکيټ چيرته دی- آيا مارکيټ تاسيس شوی يا يې احتمال شته ؟ مارکيټ څومره لوی دی؟<br>آيا سيالي شته- هغوي څه شی توليدوي، څومره، کيفيت يې څنګه او بيه يې څومره ده؟ |
| 2. آيا په بريالیتوب سره وده ورکولی شو | آيا موږ وړ اقليم، اوبه او خاوره لرو(نور لاندې ګورئ)، د محصولاتو او ليږد بيه او د مارکيټ کولو د نظرو موقعيت او د عوايدو کچه به څومره وي؟ |
| 3. د اصلي ساقو ځانګړتياوې | ډاډ د ترلاسه شي چې اصلي ساقې او پيوند (د غوټۍ مواد) وړ دي او که نه؟<br>د اصلي ساقو او خاورې سره پرتله کول ( مثلاً، مالګينه يا تيزابي خاوره، ښکلنه خاوره معمولاً زيات چينجي لري، په درنده خاوره کې ښايي ډيرې اوبه دمه شي) |
| 4. د اقليم اړتياوې | آيا پوره لمر شته؟<br>آيا د سړې هوا اړتياوې (۵۰۰-۴۰۰ ساعته د ۷ سانتيګراد درجو څخه ښکته) وړ دي او که نه؟<br>پرخه (شبنم)- پرخه څه وخت واقع کيږي؟<br>• بادام په نسبي توګه د پرخې سره کله چې په ژمني خوب ويده وي دومره حساسيت نه لري خو کله چې يې غوټۍ وپرسيدلې نو د پرخې سره حساسيت پيدا کوي.<br>• بادام ډير وختي ګُل کوي ځکه نو په هغو ځايونو کې يې بايد د کښينول څخه ډډه وشي چې د پسرلي په وروستيو کې پرخه لري.<br>د ونې مړينه هغه وخت واقع کيږي چې د تودوخې درجه ځينې ته ډيره ښکته شي (مثلاً د ۲۶- څخه ښکته) |
| 5. د ګوده شيندنې (القاح په نباتاتو کې) اړتياوې | ښه ګرده شيندنه د مچيو ښه خوځښت ته اړتيا لري.<br>د مچيو اړتياوې:<br>• د ۱۳ سانتيګراد درجو څخه لوړه تودوخه<br>• هيڅ يا لږ باران<br>• غوره بادونه هغه دي چې چټکيا يې د ۲۴ کيلومترو پر ساعت څخه ټيټ وي.<br>ډيرې مچۍ د خپلو ټولنځايونو په ۹۰-۱۸۰ مترو په واټن کې فعاليت کوي. |
| 6. د خاورې ډول او د اوبو اړتياوې | اوبه<br>• بادام د ودې پرموسم کې د خاورې يوراز لندبل ته اړتيا لري.<br>• د زياتو اوبو ورکولو څخه ډډه وکړي.<br>• د اوبه ګولو د اوبو مالګينوالی بايد د خاورې د ۱.۱ dS/m څخه لږ وي.<br>• ژوره (۲-۱متره) پورې ښکلنه او نرمه خاوره چې ښه دريناژ ولري ټيټولو غوره ده.<br>• خاوره بايد چې د ريښو دښې ودې لپاره کلك والي (تکاثف) و نه لري.<br>• د خاورې EC بايد د ۱.۵ dS\ متر څخه لږه وي. |
| 7. ټوپوګرافي (د سيمې ځانګړتياوې) | آيا د ځمکې لوړې ژورې د ماشينونو نرم تګ راتګ او حاصلاتو رانولولو ته اجازه ورکوي؟ |
| • حاصل اخستل | آيا د حاصل اخستلو لپاره کافي سرچينې شته؟<br>آيا د نورو حاصلاتو يا نورو ډولونو سره سيالي شته او که نه؟<br>آيا پوره ساړه او وچ (د لمر څخه لري)ګدامونه شته؟<br>پوره سيمه د ورګډاره شي ترڅو مختلف ډولونه سره جلا-جلا وساتل شي. |

د جان ډرايور، کورکي لوين او مارك په واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، دبڼوالۍ د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل ټيلفون 794677212 (0) 93+، zach@rootsofpeace.org

ددې خپرونې د محتوي مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګندويه نه ده.

د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي ټول حقوق خوندي دي.